AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# خواجه ابوالقاسم احمد بن حسن میمندي

## او د پښتو الفبې په ترتیب یا سمون کي د هغه ونډه

د سږ کال د جولای میاشتي پر اتمه مي له کندهاره له ښاغلي پوهاند دودیال صاحب سره ژمنه کړې وه چي کاناډا ته تر رسېدو وروسته به د خواجه احمد بن حسن میمندي او د پښتو ژبي د الفبې په سمولو کي د هغه د ونډي په باب د خپلو معلوماتو په محدوده کي څه ولیکم. له دې لیکني څخه مي مراد داوو چي په هغه وخت کي مي په میډیا کي ځیني داسي مطالب لوستل چي ګویا احمد بن حسن میمندي د پښتو ژبي په ګرامر پوه وو او ددغي ژبي د لیکدود سمون او بشپړتیا ته ئې کار وکړ او دده لیکدود د پیر روښان تر مهاله معمول وو. ما وغوښتل چي ددغه نظر د لا زیات وضاحت له پاره پر دې موضوع یو څه مکث وکړم،هغه اړخونه ئې لږ څه وشنم چي زما په نظر تت دي او د شکونو د ایجاد سبب ګرزي.

لومړی به د غزنوي دربار ددغه دانشمند وزیر په باب د خپلي هغه لیکني لنډیز راواخلم چي د ۲۰۰۰ ع کال په سپټمبر کي مي د " ویاړونه او میوندونه" په سرلیک لیکلې وه.[1]

خواجه ابوالقاسم احمد ابن حسن میمندي دکندهار د میوند اوسېدونکی وو.د غزنوي سلطان محمودپه دربارکي ئې د وزارت رتبه درلوده او د نوموړي سلطان سره ئې په وړکینه یوځای سبق هم لوستی وو . پلار ئې هم په غزنوي شاهانوکي د اقتدارخښتن وو او د ناصرالدین سبکتګین له خوا د بست حاکم ټاکل سوی وو . علامه رشادلیکي : " احمد بن حسن میمندي دخپل لیاقت په لحاظ د بغداد له درباره د شمس الکفاة لقب ګټلی دئ. ابوالفضل بیهقي ئې هم په خپل تاریخ کي د خواجهٔ بزرګ په خطاب یادوي اودده د فهم ، لیاقت او مېړاني په ستاینه کي ئې ډېرڅه کښلي دي . عروضی سمرقندي هم دده د لوړي انشاء او فضیلت په باب په چارمقاله کي حکایتونه لري . لوی عالم او په عربي کي دستاییني وړ شاعر او لیکوال و و . دغزنویانو د دربارملک الشعراء عنصری اوفرخی سیستاني دده په مدحه کي ډېري درنې قصیدې ویلي دي . دسلطان مسعودغزنوي په دربارکي هم دوه کاله وزیر وو . په ٤٢٤ هـ ق کي په هرات کي مړسو اوقبرئې په میوندکي دئ".[2]

وایي کله چي غزنوي سلطان دخواجه احمدبن حسن میمندی د مړیني خبرواورېد ، وئې ویل " اګربازفرختندی ، ماراهیچ ذخیرهٔ ازودریغ نبودی". د احمد میمندي پر قبر باندي د میوند د شهیدانو قبرونه را تاوسوي دي پرقبرئې ګومبته ولاړه ده اوزیارت ئې دعاموخاصومرجع ده . دخواجه احمدمیوندي زوی عبدالرزاق میوندي نومېدی د خپل پلار په شان لایق او مدبر سړی وو . د سلطان محمود د لمسي سلطان مودود په دربارکي ئې د وزارت رتبه درلوده .[3]

موږ پښتنوته احمدبن حسن میمندي په دې ګران نه دئ چي دسلطان هم سبق اووزیرو اوهغه ورته د"رضاعي ورور" خطاب کاوه . یا ئې د میوند په سیمه کي ژوند کاوه . پر موږ باندي دغه دانشمند شخصیت ځکه ګران دئ چي له خپلي مورنۍ ژبي پښتوسره ئې د زړه مینه درلوده . د هغې په ترویج اوعملي کېدوکي ئې هڅي کولې اوپه لیکنه کي ئې د سوانۍ له پاره د هغې الفبې د ترتیبولو یا(سمولو) له پاره د خپل وخت پوهان ګومارلي ول . د نوښاراوسېدونکی قاضي خیرالله دخیراللغات په دیباچه کي په اردو ژبه لیکلي دي چي آزاده ترجمه ئې داسي ده:

" .... د پښتولومړني حالات بالکل په تیاره کي دي... د اسلام تر فتوحاتو پخوا افغاني یعني پښتو د ویلو ژبه وه... دسلطان محمود په زمانه کي دده د وزیر حسن میمندي د ځانګړي پاملرني له امله قاضي صیف الله ( سیف الله) دې موضوع ته توجه وکړه او د تهجي ( الفبې) توري ئې په دې ډول ورته وټاکل:

۱ــ عربي توري ئې ټول ورته راواخیستل
۲ــ فارسي خاص توري (پ چ ی ګ) ئې هم ورته راوړل
۳ــ د پښتو خاص ږغونه ئې په دې بڼه وټاکل ځ څ ډ ړ نړ ږ ښ ګ[4]

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قاضي خيرالله ددغه روایت حواله نه ده کښلې خو عبدالحلیم اثر پخپل کتاب "پښتو ادب" په ۳۹ مخ کې دغه روایت په لنډ دول را اخیستی دئ او د " مرأت الانساب بحث افاغنه" حواله ئې ورکړې ده. الله بخش یوسفي غزنوي د " یوسفزي افغان" کتاب په ۱۴۸ مخ کې هم دغه روایت د " ویل کبري " په قید په محتاطانه توګه راوړی دئ او لیکلي ئې دي چې د پښتو دغه اوسنی اصلاح سوی رسم الخط د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې شیخ ابوالفتح را ایستلی دئ. د یوسفزي افغان په روایت کې د حسن میمندي نوم په " شیخ ابوالفتح" اوښتی دئ او غالباً به ئې مراد ابوالفتح بُستي وي چې د سلطان محمود غزنوي د پلار ناصرالدین سبکتګین ( ۳۶۶ــ ۳۸۷هـ ق)منشي وو. که دقاضي خیرالله دغه روایت مستند وي (که څه هم وروسته ئې دتواترله امله دثقه توب درجه موندلې ده)نو له دې نقل قولونو څخه دا خبره څرګندېږي چې د پښتو الفبې ایجادګر یا اصلاح کوونکی د سلطان محمود غزنوي د زماني سړی وو او خواجه احمد بن حسن میوندي ئې د هڅوونکي په توګه یاد سوی دئ.
د قاضي سیف الله پېژندنه مې پخپلو یادښتو کې و نه موندله خو د قاضي خیرالله په باب د ۱۸۹۳ع کال دانګلستان لندن چاپ په (Church Missionary Intelligence)،( XLIV ټوک ۵۸۵مخ) کې لنډ معلومات سته او هورې ئې کښلي دي چې قاضي خیرالله د اوسنی خیبر پښتونخوا د نوښار ( نوشهره) اوسېدونکی او پلار ئې هم په یوسفزو کې پښتون قاضي وو. په دغه لیست کې د هندوستان د هغو مسلمانانو نومونه راغلي دي چې عیسویت دین ته اوښتي ول.
علامه رشاد لیکلي دي چې قاضي خیرالله پر خیراللغات ( پښتو اردو قاموس) برسېره " معلم پښتو،پښتو بول چال، اتالیق پښتو، د منارالحق د یوې برخې ترجمه او نور "آثار هم لري.
د قاضي خیرالله زوی " ډاکتر فرانک سیف الله خیرالله" نومېدئ او د کاناډا په ټورنټو ښار کې استوګن وو. په اردو او انګرېزي ژبو آثار څني پاته دي. په ۱۹۹۷ع کال په ټورنټو کې مړ سو.

## میوند چیري دئ؟

دمیوندکلی چې په ځینو کتابو کې د " میمند" په بڼه لیکل سوی دئ، دکندهارښارلویدیځ ته دهرات ـ کندهار دلویې لارې په شمال کې پروت دئ چې دپخوانیوتشکیلاتوله مخې ئې د کشک نخودپه اولسوالۍ اړه درلوده . اوس ددغې اولسوالۍ نوم په " میوند اولسوالۍ" اوښتی دئ او د کندهار د ژړۍ اولسوالۍ لویدیځ ته پرته ده. له کندهار ښار څخه فاصله د پنځوس کیلومترو په شاوخوا کې ده. د انګورواو سر درخته مېوو باغونه لري اوزیاتره حاصلات ئې غنم اونوري غلې داني دي . په کرنه کې له کارېزوڅخه کاراخیستل کېدی خو دا کارېزونه اوس وچ دي او ځای ئې برمو نیولی دئ.
ددغې تاریخي سیمې ( میوند) یو ګُلي تصویر د انګلستان دIllustrated London News خپروني د۱۸۸۰ ع کال داګسټ پراوومه ( دمیوندترغزالس ورځي وروسته ) خپورکړی دئ .



د میوند د غزا شهیدان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

اصلي متن ئې د Daily Telegraph ورځپاڼي يوه خبريال ، چي وايي " په سيمه کي ښه بلد و"کښلی دئ . زه به ددغه تصويريوه برخه دلته رانقل کړم اوبايدزياته کړم چي داراضی اوسنی تشريح هم له ځينو جزئياتو پرته کټ مټ هماغسي ده لکه خبريال چي بيان کړې ده .

" له گرشک څخه سړک ترهيلمندروداوړي اودختيځ پرلورترکندهاره تقريباسيده غزيږي . ترروډچي څوميله راتېرسئ ، مځکه پردواړو خواووباندي ډېره زياته ډبرينه ده . شمال ته ئې له سړک سره موازي دغونډيويوځنځيرپروت دئ چي ورو ورو سړک ته رانژدې کيږي ، دځنځيردوې غونډۍ دکشکنخودله ناوې سره په لويديځ اوختيځ کي نښلي اونورځنځيردشمال لورته کږيږي . لويديځ پاڼ له سړک څخه يوڅه گوښه دئ خوختيځ ئې دومره ورڅرمه دئ چي سړک ئې ورسره تاوکړی دئ . له دغه ځايه بياترحوض مدد پوري د۲۳ ميلوپه اوږدوکي غرونه له سړکه ليري کيږي اووروسته بيادار غنداوناوې ختيځه څنډه جوړوي ... ترحوض مددپوري مځکه ورو وروم‌خ پرځوړځي اود کروندوپټي پيل کيږي چي په پای کي ټوله سيمه له غرونواوريگي دښت پرته شنه پټي دي . داسيمه زياته اندازه انگوري باغونه لري .... د ناوې ( دکشکنخودناوه ـــ م . هوتک ) دمرکزښی لاس ته له سړک څخه اته سوه متره ليري يوډول مسجد ليدل کيږي چي ديوه مسلمان پير يا روحاني زيارت ښيي . دغه زيارت ديوه غټ انگوري باغ په کونج کي پروت دئ اوباغ دزيارت ددروېشانوله خوا جوړسوی اوروزل کيږي . په دغه ځای کي دسبردرې وني ولاړې دي چي له څه ډپاسه يوميل فاصلې څخه له ورايه معلوميږي ...."

دازيارت به چي ( خبريال ) ئې نوم نه دئ اخيستی ، په غالب گومان دخواجه ابوالقاسم بن حسن ميوندي دئ . اوس دغه زيارت دکندهارــ هرات له لويي لاري څخه نه معلوميږي پخواددغي لويي لاري مسير زيارت ته نژدې واقع وو . د ميوندزياتره مځکي د سردارکهندل خان د اولادې ملکيت دئ . دغه کورنۍ ( دميوندپه محمدزو) مشهوره ده .



د خواجه احمد ميمندي زيارت
جولای ۲۰۲۳ع



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دې زيارت ته زه ( م. هوتک) د سږکال د جولای مياشتي په سر کي ولاړم. زيارت پر هماغه پخواني حال ولاړ دئ. گومبته ئي سالمه ده. د سبر درختي ئي اوس نسته. د متولي له خولي مي واورېدل چي دروازې ئي امريکايانو وکښلي او ورسره يو ئي وړي. دده له قوله چي پر دروازو ئي تاريخ هم ليکلی وو. دننه په زيارت کي له قبر څخه جلا دوې ډبريني شنختي هم دېوالة ته تکيه پرتي وې چي په غالب گمان له بله ځايه راوړل سوي وې. په خراب ليک فارسي بيتونه پر ليکل سوي ول چي بشپړه تشريح به ئي زه که د پاک خدای رضا وه او حوادثو فرصت راکړ، پخپله سفرنامه کي وليکم.

آټاوا ــ کاناډا

۲۰مه د جولای ۲۰۲۳ع



د خواجه احمد بن حسن ميوندي زيارت

قبر ته ولاړ : محمد معصوم هوتک

ماخذونه:

۱ ــ دالیکنه د هغي علمي غونډي(سيمينار) له پاره ليکل سوې وه چي په جرمني کي دافغانستان دکلتوري ودې تولني له خوا د(ميوندــ دافغانستان دتاريخ ځلی) په نامه دميونددتاريخي بري ديوسلوشلمي کاليزي په وياړد۲۰۰۰ ع کال دنوامبرپراتلسمه نېټه د المان دکولن په ښارکي جوړه سوې وه.

۲ ــ د کابل چاپ خيرالبيان، د بوهاند رشاد سريزه

۳ ــ د کندهار مشاهير ۱۲۲مخ

۴ ــ خيراللغات، حصه اول، ديباچه، ص ۴، نولکشور لاهور، ۱۹۰۶ع



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ